# شهیده !



زمونږد ټول وطن اتل شهیده

د ټول ملت د ګډ مورچل شهیده

ته د وطن په سرله سره تیرشوې

**زرآفرین ستا په تکل شهیده**

**په حقانیت دې ټول ملت پوهیږي**

**تل دې په خدای کاوو توکل شهیده**

**تا چې څه وې واړه رښتیا وختل**

**څومر دقیق دې وواټکل شهیده**

**د سولې لاردې بل بدیل نلري**

**مونږ پل په پل ځوستا په پل شهیده**

**همدا ستا لاره د نجات لاره ده**

**نه پکې شک شته نه خلل شهیده**

**لامود جنګ په ضد (قیام) روان دی**

**ځوستا په لارترخپل منزل شهیده**

ا٠قیام

22/09/2015